تابش پوهنتون

پوهه، نوښت او پرمختګ



# د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي

## معلوماتي کتاب

تحصیلي کال: ۱۴۰۵ هـ.ش

**د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي لنډه پیژندنه**

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د پوهنتون له تاسیس سره سم د لوړو زده کړو وزارت لخوا د (۱۳۸۸-۱۰-۲۴) نېټه په رسمي تائیدی سره سم په مرکز کابل کې خپل اکاډمیک فعالیت پیل کړ. چې په ۱۴۰۲ ه.ل کال کې د ننگرهار ولایت ته را انتقال او همدلته خپل علمي فعالیت ته ادامه ور کوي چې تر دی دمه یې په ۱۶ بیلابیلو دورو کې(۲۰۹۸)تنه نارینه او ښځینه محصلین روزلي او ټولنې ته یی د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

دغه پوهنځي د دوو څانگو (حقوق - سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې) درلودونکی دی.

د حقوقو پوهنځي په تشکیل کې رئیس، د ډیپارټمنټونو آمرین، او د استادانو سربیره تدریسي مدیر هم شتون لري.



# د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د رئيس پيغام!

اِقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ.(سورت العلق)

ژباړه:ولوله (يا ولوله پيل کړه) د خپل رب په نوم، هغه چې پيدا يې کړل (هر څه).

دارنگه رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي:

مَنْ سَلَكَ طَرِيقًا يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْمًا، سَهَّلَ اللَّهُ لَهُ بِهِ طَرِيقًا إِلَى الْجَنَّةِ. (رواه مسلم)

ژباړه:

هر څوک چې د علم د ترلاسه کولو لپاره په کومه لاره روان شي، الله تعالی به د هغه لپاره د جنت لاره اسانه کړي.

د يوې هوسا، پرمختللې او سالمې ټولنې د رامنځته کيدو لپاره پوهه او علم ضروري دی. ځکه يوه ټولنه هغه وخت د کمال حد ته رسېږي، چې وګړي يې د علم په ګاڼه سمبال وي او پرته له کومې ستونزې ژوند وکړي او حقه حقوق خوندي وي، تر څو د خپل ځان، کورنۍ او ټولنې اړتياوې د مشروع او قانوني لارې پوره کړي، نو اړينه ده چې دولت د علم په هره (حقوقي، سياسي او اداري...) برخه کې متخصص، مسلکي او علمي کادرونه وروزي او په ټولنه کې شته سياسي، اقتصادي، فرهنګي، ټولنيزو او داسې نورو اړتياوو ته په کتو د زده کړې داسې اساسي واحدونه رامنځته شي، چې له يوې خوا د متخصصو، مسلکي او علمي کادرونو په روزنې سره په هراړخيزه توګه د افغاني ټولنې اړتياوې رفع کړي او د بلې خوا د عدالت په تأمين کې رغنده رول ولوبوي، همدارنګه د يوې ټولنې د نظم او ثبات لپاره باکفايته مديريت، غوره سياستوال، قانون ته ژمن حقوق پوهان، څارنوالان او قاضيان لومړنۍ اړتياده، په همدې اساس د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د لوړو زده کړو وزارت د اړونده قوانينو او مقرراتو، په رڼا کې د عدالت، قانون د حاکميت، سالمې اداري او پورته اهدافو ته د رسيدو په منظور ايجاد شوی، چې په دوو څانګو (سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګه او حقوق څانګه) څلورکلنه تحصيلي دوره کې د هيواد د حقوقي، سياسي، اداري او قضايي ارګانونو لپاره دعدالت، قانون حاکميت د پلي کېدو په موخه په ملي روحيه سمبال مسلکي او علمي کادرونه روزلي او دا لړۍ ادامه لري، زمونږ لرليد او ماموريت روښانه دی او د ټاکلو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه هڅوادوالو ته غوښتل شوي اکاډميک خدمات وړاندې کوو او باوري يو چې د همدې ځوانانو په روزنې سره به د ټولو بدبختيو جرړې له بيخه ووځي.

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي ټول اکاډميک او اداري غړي د پوهنتون د رهبرۍ تر مستقيمې لارښوونې لاندې په سپيڅلې ارادې او کلک هوډ سره خپلو ګرانو محصلينو، ځوانانواو ورونو ته د باکيفيته تدريس وړاندې کولو ته ژمن دي.

درنښت

پوهنيار عبدالعزيز همت

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي رئيس

## لرلید

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی غواړي د باکیفیته زده کړو او علمي څېړنو پرمټ حقوق، سیاسي علوم او نړیوالو اړیکو کې ځانګړی روزنیز موقف ولري.

## ماموریت

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپلو موخو په پام کې نیولو سره د معاصر تدریس پر مټ ټولنې ته د عدالت، قانون حاکمیت او ښې حکومتولی په روحیه سنبال استعدادونه روزي.

## ارزښتونه:

۱. اسلامي شعایرو ته درناوی.
۲. ملي ګټو ته ژمنتیا.
۳. مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول.
۴. متقابل نظریاتي درناوی.
۵. متفاوت روزنیز چاپېریال.
۶.اکاډمیکه خپلواکي.
۷.عادلانه زده کړې او مسلکي چلند.

## اساسي موخې:

د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د خپلو موخو،

لرليد او ماموريت د تحقق په موخه لاندې اهداف په گوته کړي او د هغو د تحقق لپاره ژمن دی:

**د پوهنځي ارزښتونه**

د حقوق او سياسي علومو پوهنځی په خپلو تحصيلي، اداري،
تدريسي، څېړنيزو، مالي او حسابي چارو کې د لاندې ذکر شويو
ارزښتونو رعايت ته ژمن دی او د يادو يادو ارزښتونو ته درناوی لري.

**اسلامي شعايرو ته درناوی**

د حقوق او سياسي علومو پوهنځي محصلين، کار کوونکي او کاري شريکان مکلف دي چې د اړوند خدماتو ارايه کولو يا خپلو اجراءاتو پر مهال د اسلامي شعايرو او ارزښتونو ته درناوی ولري او په هيڅ صورت اجازه ورنکړي چې څو په زده کړيزو او کاري پروسو کې د يادو شعايرو بې حرمتي وکړي.

**ملي گټو ته ژمنتيا**

ملي گټې چې د هېواد د ټولو اوسېدونکو ژوند، گټو او وياړونو مشترک حيثيت او وجودي شتون گڼل کېږي، د حقوق او سياسي علومو پوهنځی د خپل ملي مکلفيت له ادرسه په پوره درناوي د خپل معنوي ژمنتيا پر بنسټ پالي او هم يې په ساتنه کې خپل توان وړ برخه اخلي.

## اساسي موخې:

**مسؤلیت منل او ټولنې ته ځواب ورکول**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د ټولو علمي او معنوي ارزښتونو په پام کې نیولو سره د ټولنې د وګړو د تحصیلي روزنې ورسپارل شوې دنده په پوره ایمانداری او تعهد سره مخته وړي او په اړونده برخه کې خپلې ټولنې ته خپل ځان په ځواب ورکولو مکلف ګڼي.

**متقابل نظریاتي درناوی**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د انساني طبعیت د متغیر جوړښت پر بنسټ د ټولو اهل نظر خاوندانو فکري او پوهنیزې وړتیا ته په پوره درنښت قایل او کوښښ کوي چې د متقابل نظریاتي درناوي په روحیه برابر تحصیلي چاپیریال ولري.

**متفاوت روزنیز چاپیریال**

د روزنیزو موخو او سالمو رقابتي کوښښونو پر باور متکي او داوړمن چاپیریال ته د نظري زده کړو بېره په عملي بڼه د داسې اشخاصو روزل چې له فراغت سره سم ځان ته په مارکېټ کې د بوختیا ظرفیت او توانمندي ولري.

**اکاډمیکه خپلواکي**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی خپلو کادري او اداري کارکوونکو سربېره خپلو زده کړیالانو ته په داسې اخلاقي او حقوقي موازینو برابره روزنیزه زمینه برابره کړې چې د اکاډمیکې کورنۍ ټول غړي په کې د اصولمندۍ پر روحیه برابر تعامل څخه برخمن او خوښمن وي.

**عادلانه زده کړې او مسلکي چلند**

د حقوق او سیاسي علومو پوهنځی د خپل اخلاقي مسؤلیت له مخې خپلو اجرائیوي فعالیتونو ته د عدالتمندۍ اصل ته په کتو خپل رسالت مخته وړي او هم هڅه کوي چې پوهنځي محیط د مسلکي چلند او متقابلې خیر رسونې نمونه یې بېلګه وي.

## متوقع پايلې:

1. د افغانستان د حقوقي، اداري او سياسي نظام د بنسټونو، جوړښت او منابعو پېژندل او په دې نظام کې د فقهې د ځای او تطبيق  پېژندنه
2. د سياسي علومو د اساساتو، جوړښت،منابعو پېژندنه او د سياسي علومو د عملي کولو څرنګوالی پېژندل.
3. د قانون حاکميت، ټولنيزه رفاه او ښه حکومتولي رامنځته کېدل.
4. په ملي، سيمه ايزه او نړيواله کچه د سياسي اړيکو او اړيکو پورې اړوند مسايلو د مسلکي کارمندانو روزنه
5. په ملي او نړيواله کچه د افرادو، حکومتونو، نړيوالو سازمانونو، شرکتونو او نورو قانوني ادارو اقتصادي او سياسي تعاملاتو د اداره کولو لازمي او اختياري قواعدو پوهېدل
6. جرم، د هغې ډولونه او عوامل، د مجازاتو مفهوم او د جزايي دعوای اقامه کول او د افغانستان د حقوقي سيستم او نړيوالو اسنادو سره سم د قضيو ته د رسيدګی په پروسه پوهېدل
7. د متخصصو او ژمنو بشري قوې روزنه چې په خصوصي او عامه سکتور کې د ملي روحيې سره کار کولو توان ولري
8. د قراردادونو د مسودې په برخه کې د اړينو مهارتونو زده کړه، د مدني او جنايي محکمو قضيې پرمخ وړل او د رسمي او غير رسمي شخړو حل کولو ميتودونو باندې پوهېدل، حقوقي ليکنې، حقوقي تحليل، استدلال او بيان، اداره او رهبري، مدافع وکالت او مسلکي حقوقي مشورې او د شخړو حل کولو لپاره حقوقي مشورې ورکول

## د محصلینو عملي کارونه

- د محاکمو څخه لیدنه
- د څارنوالیو څخه لیدنه
- د زندانونو څخه لیدنه
- د قضاء او څارنوالۍ عملي ستاژ
- طب عدلي
- د مدافع وکیلانو انجمن ته علمي سیرونه
- علمي سمینارونه
- په صنفونو کې ګروپي کارونو کې ګډون
- حقوقي کلینیک
- انټرنشیپ لپاره د دولتي او غیردولتي ادارو او بنیادونو ته د محصلینو معرفي کول
- په نړیواله کچه حقوقي کنفرانسونو کې ګډون کول
- په نړیواله کچه علمي مسابقاتو کې ګډون کول


## د فارغانو د کار ساحه

1. قضائیه قوه، مقننه قوه او اجرائیه قوه
2. دفاع وکالت
3. وزارت خارجه او وزارت عدلیه
4. سفارتونه
5. څارنوالي

# لوړو زده کړو وزارت

## تابش پوهنتون

### د  حقوق او سیاسي علومو تشکیلاتي جوړښت




په پورته ډول د ۱۴۰۵ هـ.ل کال لپاره د **د حقوق او سیاسي علومو پوهنځي تشکیلاتي جوړښت**، د پوهنتون علمي شورا د (۱۴۰۴/۱۲/۲۶) نېټې په (۱٦) ګڼه پروتوکول او  د امناء هیئت مجلس د ( ۱۴۰۴/۱۲/۲۷) نېټې په (۸) ګڼه پروتوکول کې د رایو په یووالي سره ثبت، تائید او تصویب شو.

**د لوړو زده کړو وزارت**

**تابش پوهنتون**

**حقو قو او سیاسي علومو پوهنځی**

**د دایمي استادانو جدول**

| ګڼه | پېژندنه | | لوړې زده کړې | | | د دندې ډول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | نوم | تخلص | زده کړو کچه | تحصیلي څانګه | علمي رتبه | دایمي | قراردادي |
| ۱ | پوهنیار عبدالعزیز | همت | ماستر | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | پوهنیار | دایمي | |
| ۲ | پوهنیار عبدالحمید | سیرت | ماستر | قضاء او څارنوالي | پوهنیار | دایمي | |
| ۳ | ولي الله | حنیفي | ماستر | قضاء او څارنوالي | نلري | دایمي | |
| ۴ | لطف الله | عزیزي | ماستر | نړیوال حقوق | نلري | دایمي | |
| ۵ | فتح الله | محمدي | ماستر | قضاء او څارنوالي | نلري | دایمي | |
| ٦ | نوماند پوهنیار سبحان الله | تصمیم | لسانس | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | نوماند پوهنیار | دایمي | |
| ۷ | نوماند پوهنیار سید جواد | سادات | لسانس | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | نوماند پوهنیار | دایمي | |

**د علمي کادر غړو تعداد د تحصیلي درجې په تفکیک سره:**

| لسانس | ماستر | دوکتور | د دکتورا جریان | دایمي | ساعتوار | جمله |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | ۵ | ۰ | ۱ | ۹ | | ۹ |

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي څانګې**

| شماره | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د فارغانو ورکوونکې څانګې | | |
|---|---|---|---|
| | **پښتو** | **دري** | **English** |
| ۱ | **حقوق** | **حقوق** | **Law** |
| ۲ | **سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې** | **علوم سیاسی و روابط بین الملل** | **Political Sciences and International Relations** |

## درسي وختونه:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوق- سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو ډیپارټمنټونو کې په اونۍ کې پنځه ورځې هره ورځ له شنبې تر چهارشنبې د محصلینو په روزنه بوخت دی.

## فرعي کمېټې:

د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي په جوړښت کې جمله پنځه فرعي کمېټې فعالیت کوي چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

1. د ستراتیژیک پلان تدوین، تطبیق او ارزونې (پلان او پالیسۍ) فرعي کمېټه
2. د کیفیت لوړونې فرعي کمېټه
3. د څېړنې فرعي کمېټه
4. د کریکولم (نصاب) فرعي کمېټه
5. د ازموینې فرعي کمېټه

## د تحصیل دوره

د افغانستان د لوړو زده کړو تحصیلي بنسټونو د کریډېټ د لایحې د لومړۍ مادې له مخې د تابش پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د حقوق ډیپارټمنټ او د سیاسي علومو او نړېوالو اړیکو ډیپارټمنټ د لیسانس دورې د زده کړې موده څلور کاله ده.

## کرېډېټونه

د نوي تحصيلي کريکولم له مخې د حقوقو څانګې مجموعي کرېډېټونه ۱۵۸ او د سياسي علومو او نړيوالو اړيکو څانګې مجموعي کرېډېټونه ۱۴۶ دي.

## درسي مضامين او کتګورۍ

- د لوړو زده کړو د مؤسساتو د کرېډېټ لايحې دويمې مادې لمخې د ليسانس دورې کرېډېټونه بايد له ۱۳۶ کم نه وي، او په يو سمستر کې له ۲۱ څخه اضافه کېدای نشي.
- د همدې لايحې د درېيمې مادې له مخې مضمونونه په څلورو کټګوريو: اساسي، تخصصي، اختياري او عملي وېشل شوي دي، اساسي مضامين حد اکثر ۳۰ فيصده، تخصصي مضامين حد اقل ۵۰ فيصده، او اختياري مضامين د پوهنتون شموله مضامينو په شمول ۱۲ فيصده،مونوګراف، سيمينار، ستاژ،دولتي امتحان او د ديپلوم پروژې تکميل ۸ فيصده دي او نمرې يې د ۱۰۰ له قراره حسابېږي.
- اساسي مضامين: ۴۴ کرېډېټونه دي چې د ټولو کرېډېټونو ۲۸ فيصده کېږي
- تخصصي مضامين: ۸۳ کرېډېټونه دي چې د ټولو کرېډېټونو ۵۲ فيصده کېږي
- اختياري مضامين: ۲۰ کرېډېټونه دي چې د ټولو کرېډېټونو ۱۳ فيصده کېږي
- عملي کار او مونوګراف: ۱۱ کرېډېټونه دي چې د ټولو کرېډېټونو ۷ فيصده کېږي

د حقوقو اوسیاسي علومو پوهنځي دواړه ځانګې په دوو درسي وختونو (سهار او مازدیګر) کې خپل ټولګي برابرولی شي او هر درسي وخت (٤) کرېډېټه وي.
محصلان مکلفیت لري، چې د اووم سمستر په پیل کې خپل مونوګراف، چې د لیسانس د دورې برخه یې ده، د خپل لارښود استاد په همکارۍ، چې د ځانګې له خوا دده د لارښوونې لپاره ټاکل کېږي ترتیب او په ټاکلي وخت کې د یوې ځانګړې کمېټې په حضور کې له مونوګراف څخه دفاع وکړي.

ج- بلاک هال



د تابش پوهنتون
علمي چارو معاونیت
حقوق او سیاسي علومو پوهنځی
سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

## لومړی سمستر:  سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بنه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د حقوقو بنسټونه | B.IR.0101 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 2 | د نړی سیاسي تاریخ | B.IR.0106 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 3 | نړیوال سازمانونه | B.IR.0107 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 4 | د اسلامي حقوقو اساسات | B.IR.0108 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 5 | انګلیسي ژبه (۱) | LI.EN.0104 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | تلاوت او تجوید | SL.IC.0172 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 7 | د اسلامي اعتقادي نظام | SL.IC.0173 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 8 | د کمپیوټر اساسات | CS.IS.0105 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |

دویم سمستر: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډېټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | مادیت او د اسلام په اړه نوي تېروتني | B.IR.0201 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 2 | سیاستپوهنه | B.IR.0211 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 3 | د سیاسي افکارو تاریخ | B.IR.0212 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 4 | د افغانستان معاصر تاریخ | SS.HI.0103 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 5 | د اسلام عبادتي نظام | SL.IC.0273 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | نبوي سیرت | SL.IC.0274 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 7 | د ژوند چاپېریال | Ns.En.0202 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 8 | حکومتولۍ اساسات | B.IR.0213 | انتخابي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۱ |

### دریېم سمستر: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د جزا عمومي حقوق (۱) | B.IR.0315 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 2 | معاصر حقوقي سیستمونه | B.IR.0316 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 3 | د نړۍ په تمدن کې د مسلمانانو رول | B.IR.0317 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 4 | د اسلام جزایي حقوق | B.IR.0318 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 5 | د اسلام ټولنیز نظام | SL.IC.0376 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 6 | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC.0375 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 7 | حقوقي ترمینولوژي | B.IR.0319 | انتخابي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۱ |
| 8 | د جزا عمومي حقوق (۱) | B.IR.0315 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |

## څلورم سمستر: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د جزا عمومي حقوق (۲) | B.IR.0415 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۵ |
| 2 | د اسلامي نړی اوسنی حالت | B.IR.0421 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 3 | د کار حقوق | B.IR.0422 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 4 | عمومي اساسي حقوق | B.IR.0423 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۵ |
| 5 | فکري پوهنه | SL.IC.0477 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | ادیان او مذاهب | SL.IC.0478 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۱ |

## پنځم سمستر: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال عمومي حقوق | B.IR.0524 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 2 | اداري او مدیریت | B.IR.0525 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۵ |
| 3 | د ډیپلوماسی تاریخ | B.IR.0526 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 4 | نړیوال سیاستونه | B.IR.0527 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 5 | د اسلام سیاسي نظام | SL.IC.0579 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | د اسلام اداري نظام | SL.IC.0580 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |

**سمستر: شپږم: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه**

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د نړیوالو اړیکو تاریخ | B.IR.0628 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 2 | دافغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | B.IR.0629 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 3 | ډیپلوماسی تاریخ | B.IR.0626 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 4 | نړیوال سیاسیتونه | B.IR.0627 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 5 | اداره او مدیریت | B.IR.0625 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۴ |
| 6 | اساسي مقایسوي حقوق | B.IR.0630 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 7 | مبانی تحلیل سیاست خارجی | B.IR.0631 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 8 | د ابن خلدون ټولنیز او روزنیز آندونه | B.IR.0632 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 9 | داسلام اقتصادي نظام | SL.IC.0681 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |

## سمستر اوم: سیاسي علوم او نړیوالې اړیکو څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړۍ سیاسي مسایل | B.IR.0733 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 2 | نړیوال امنیت | B.IR.0734 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 3 | اساسي عمومي حقوق | B.IR.0735 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 4 | رهبرۍ اصول | B.IR.0736 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 5 | نړیوال خصوصي حقوق | B.IR.0737 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | اداري حقوق | B.IR.0738 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 7 | نړیوال جزا حقوق | B.IR.0739 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 8 | نړیوال تجارت حقوق | B.IR.0740 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 9 | قران اومعاصرعلوم | SL.IC.0782 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |

**سمستر اتم: سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو څانګه**

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال سیاستونه (۱) | B.IR.0835 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 2 | ډیپلوماتیک او قونسلي حقوق | B.IR.0841 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 3 | نړیوال دفاعي تړونونه | B.IR.0842 | مسلکي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۳ |
| 4 | د دعوت او بیان اصول | B.IR.0837 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 5 | نړیوال جزا حقوق | B.IR.0839 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 6 | اداري حقوق | B.IR.0838 | اساسي | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 7 | اسلامي تمدن | SL.IC.0883 | همه شموله | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۲ |
| 8 | مونوګراف | B.IR.0843 | عملي کار | سیاسي علوم او نړیوالې اړیکې | ۵ |

د تابش پوهنتون

علمي چارو معاونيت

حقوق او سیاسي علومو پوهنځی

حقوق څانګه

## لومړی سمستر: حقوق څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بنه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د حقوقو بنسټونه (۱) | B.LAW.0101 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 2 | نړیوال سازمانونه | B.LAW.0107 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 3 | د دعوت او بیان اصول | B.LAW.01 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 4 | د اسلامي حقوقو اساسات | B.LAW.0108 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 5 | انګلیسي ژبه (۱) | LI.EN.0104 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 6 | تلاوت او تجوید | SL.IC.0172 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۱ |
| 7 | د اسلام اعتقادي نظام | SL.IC.0173 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 8 | رسنیو حقوق | B.LAW.0109 | انتخابي | حقوق ډیپارټمنټ | ۱ |
| 9 | د کمپیوټر بنسټونه | CS.IS.0105 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |

## دویم  سمستر: حقوق ځانګه

| د کرېډېټ شمېر | اړوند ډیپارټمنټ | د مضمون بڼه | کوډ نمبر ID | مضمون | شماره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | حقوق ډيپا رټمنټ | اساسي | B.LAW.0201 | حقوقو بنسټونه (۲) | 1 |
| ۴ | حقوق ډيپا رټمنټ | اساسي | B.LAW.0211 | سیاستپوهنه | 2 |
| ۲ | حقوق ډيپا رټمنټ | ټول شموله | SS.HI.0203 | د افغانستان معاصر تاريخ | 3 |
| ۲ | حقوق ډيپا رټمنټ | ټول شموله | SL.IC.0273 | د اسلام عبادتي نظام | 4 |
| ۲ | حقوق ډيپا رټمنټ | ټول شموله | SL.IC.0274 | نبوي سيرت | 5 |
| ۲ | حقوق ډيپا رټمنټ | ټول شموله | Ns.En.0202 | د ژوند چاپېريال | 6 |
| ۲ | حقوق ډيپا رټمنټ | اساسي | B.LAW.02 | مادیت او د اسلام په اړه نوي تېروتنې | 7 |

دریيم سمستر: حقوق څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمیر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د جزا عمومي حقوق (۱) | B.LAW.0315 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 2 | معاصر حقوقي سیستمونه | B.LAW.0316 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 3 | د وجایبو حقوق | B.LAW.0317 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 4 | د اسلام جزايي حقوق | B.LAW.0318 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 5 | د اسلام ټولنیز نظام | SL.IC.0376 | همه شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 6 | د اسلام اخلاقي نظام | SL.IC.0375 | همه شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 7 | حقوقي ترمینولوژي | B.LAW.0319 | انتخابي | حقوق ډیپارټمنټ | ۱ |
| 8 | د نړی په تمدن کی د مسلمانانو رول | B.LAW0320 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |

## څلورم سمستر: حقوق څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د جزا عمومي حقوق (۲) | B.LAW.0415 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۵ |
| 2 | مالي حقوق | B.LAW.0421 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 3 | د کار حقوق | B.LAW.0422 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 4 | د اسلامي نړۍ اوسنی حالت | B.LAW.04 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 5 | فکري پوهنه | SL.IC.0477 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 6 | ادیان او مذاهب | SL.IC.0478 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۱ |

**پنځم سمستر : حقوق څانګه**

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډېټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | نړیوال عمومي حقوق (۱) | B.LAW.0524 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 2 | اختصاصی حقوق جزا (۱) | B.LAW.0525 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 3 | کریمنالوژي (۱) | B.LAW.0526 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 4 | فامیل حقوق (۱) | B.LAW.0527 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 5 | اصول فقه | B.LAW.0528 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۳ |
| 6 | د اسلام سیاسي نظام | SL.IC.0579 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 7 | د اسلام اداري نظام | SL.IC.0580 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |

**شپږم سمستر: حقوق څانګه**

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | کریمنالستیک | B.LAW.0629 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 2 | فامیل حقوق (۲) | B.LAW.0627 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 3 | نړیوال عمومي حقوق (۲) | B.LAW.0624 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 4 | کریمنالوژي (۲) | B.LAW.0626 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 5 | فقهي قواعد | B.LAW.0630 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 6 | جزايي اختصاصي حقوق (۲) | B.LAW.0625 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 7 | جزايي مسؤولیت | B.LAW.0631 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 8 | قانون جوړوني اصول | B.LAW.0632 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 9 | داسلام اقتصادي نظام | SL.IC.0681 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 10 | د ابن خلدون ټولنیز او روزنیز آندونه | B.LAW.05 | اساسي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |

## اوم سمستر: حقوق څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډیټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عيني حقوق (۱) | B.LAW.0733 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 2 | جزايي محاکمو اصول (۱) | B.LAW.0734 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 3 | جزا پیژندنه | B.LAW.0735 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 4 | دفاع وکالت | B.LAW.0736 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۳ |
| 5 | نړیوال خصوصي حقوق (۱) | B.LAW.0737 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 6 | اداري حقوق | B.LAW.0738 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 7 | نړیوال جزا حقوق (۱) | B.LAW.0739 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 8 | نړیوال تجارت حقوق | B.LAW.0740 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 9 | مدني محاکمو اصول | B.LAW.0741 | مسلکي | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |
| 10 | قران اومعاصرعلوم | SL.IC.0782 | ټول شموله | حقوق ډيپارټمنټ | ۲ |

## اتم سمستر: حقوق څانګه

| شماره | مضمون | کوډ نمبر ID | د مضمون بڼه | اړوند ډیپارټمنټ | د کریډېټ شمېر |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | عيني حقوق (۲) | B.LAW.0833 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 2 | جزايي محاکمو اصول (۲) | B.LAW.0834 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۴ |
| 3 | میراث حقوق | B.LAW.0842 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 4 | نړیوال جزا حقوق (۲) | B.LAW.0839 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 5 | نړیوال خصوصي حقوق (۲) | B.LAW.0837 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 6 | اداري حقوق | B.LAW.0838 | مسلکي | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 7 | اسلامي تمدن | SL.IC.0883 | ټول شموله | حقوق ډیپارټمنټ | ۲ |
| 8 | مونوګراف | B.LAW.0843 | عملي کار | حقوق ډیپارټمنټ | ۵ |

## امکانات او تجهیزات:

1. د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي دواړه دیپارتمېتونه مجهزې تدریسی خونې لري، چې ټولې خونې يې د ټولو اړينو سهولتونو څخه برخمنې دي لکه: کولر، LCD، پکه،چوکۍ، خطابي مېز او داسې نور.
2. مجهز کتابتون لري چې لویه برخه يې د همدې پوهنځي کتابونه تشکیلوي، په همدې توګه محصلين يکې انلاین کتابتونونو (E-Libraries) ته هم لاس رسی لري چې د یولک څخه زیات علمي کتابونه لري، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د محصلینو د ګټې اخستنې لپاره د کتابتون په کمپیوټرونو کې شتون لري او په ټولو رسمي وختونو کې د دغه پوهنځي محصلين کولای شي چې ترې ګټه واخلي.
3. مجهز کمپیوټر لېب لري، په سریع انټرنټ سمبال دی او هره ورځ د محصلینو پر مخ خلاص وي
4. د محصلینو شکایاتو ته د رسیدګۍ په موخه په پوهنځي کې د شکایتونو اورېدلو کمېټه او د شکایاتو صندوق شتون لري چې د معلوم تائید شوي پروسیجر له مخې د دوی شکایتونه اورېدل کېږي او په ورته وخت کې د امکان تر حده ورته لاسرسی کېږي.


د غونډو تالار


کمپیوټر لېب


مجهز ټولگي


کتابتون

TABESH UNIVERSITY

1388

تابش پوهنتون

# تابش پوهنتون

پوهه، نوښت او پرمختګ


0093 783 722 722

www.tabesh.edu.af

ادرس: ارزاقو کوڅه، درېیمه ناحیه، جلال‌آباد ښار.